# (C) برخه: د ځنګل اداره او مدیریت

پنځم لوست یا درس: د ځنګل د ونو حاصل اخستل

(Harvesting Forest Trees)

# اصطلاح ګاني

- Bucking ګیډۍ ګیډۍ کول یا جوړه کول
- Clear cuttingپه بشپړه توګه پریکول
- Establishment cutting
- Felling پري کول او په ځمکه اچول
- Group selection method
- Limbingد ښاخونو یا ښرانګو پري کول
- Loggingونه پري کول او الوار جوړونه، له ځنګله څخه ګټه اخستل
- Non-point source pollution

- **Removal cuttingsد پري کړی شوو قطعاتو یا پارچو له منځه وړل**
- **Seed-tree cuttingد تخم د ونې پري کول**
- **Selection cuttingد ګلچین یا انتخاب شوو پري کول**
- **Shelterwood cuttingد پناه ځای د لرګی پري کول**
- **Silvicultureد ځنګلدارۍ یا ځنګل پالنه**
- **Single-tree selection method**
- **Skidding په ځنګله کي د ونې تنه او الوار ویستل**
- **Timber cruise) د لرګی د میزان یااندازه کولو لپاره ځنګل ساتل) په ځنګل کي ګرځیدل، ځنګل وارسي کول**

# هغه عمده فعالیتونه چي د ونو د حاصل په اخستلو کي شاملي دي.

- د ونـــو حاصـــــل اخســـــتل یـــا زیرمـــــه کـــول (logging,)د ځنګله د کلید په نوم سره یادیږي.
- د ځنګل یا ځنګلداری غوره پلانونه د ونو د درستي پریکوني په اجراکولو سره تطبیق کیږي.

# ځنګداری یا ځنګل پالنه (Silviculture)

- پرورش جنگل یا جنگلداری (Silviculture) عبارت از تولید و د یوه ځنګله له ساتنې او تولید نه عبارت دی.
- معکوساً، د ولاړ چهاتراش لرګی ګټورتوب په ضعیفه پلان جوړونې سره په هغه صورت کې پاملرنه په درست ډول سره صورت ونه نیسي، وني له منځه ځي.

# ځنګداری یا ځنګل پالنه(Silviculture)

- حتي په هغه ځنګلونو کي چي اساساً د چهارتراش د توليد څخه په غير د نورو مقصدونو لپاره پلان شوی وي، اکثراً د هغي د ونو پري کول يو حتمي امر دی.
- د ونـي د پـري کولـو مصـرف او الـوار جوړول د لرګی د محصولات يو له عمده فکتور څخه دی.
- درانده چهارتراش، سخت، او د هغي تنظيم کول ګران کار دی.

# ځنګداری یا ځنګل پالنه(Silviculture)

- له ځنګله څخه ګټه اخستل(Logging) یا ونې پرې کول او الوار جوړول د هغه مشغولیتاوو په ګروپ کې راځي، چې مشکلې یا ستونزمنې دي.
- نو په دې بنا هغه فعالیتونه چې له ونې پرې کونې او الوار جوړونې سره تړاو لري، تجربه لرونکو اوماهر یا پوه کسانو ته چې د لرګی او د هغې د وسایول په باره کې زده کړه ولری په دې برخه کې ورته اړتیا یا ضرورت لیدل کیږي.

# ځنګداری یا ځنګل پالنه(Silviculture)

- د نړی په ځنیو نقطو یا برخو کي د ځمکو خاوندان ځنګل مخکې له دي نه چي د ونې پرې کولو عملیات او الوار جوړونه پیل کړي، باید چي د ځنګله د حاصل اخستلو لپاره پلان وړاندې کړي.
- ددي کار څخه عمده هدف یا موخه دا ده ترخو تچي دونې پرې کولو او الوار جوړونه ترقي حاصله کړي، د خاوري تخریب او د محیط یا چاپیریال ککړتیا ته کموالی ورکړي.

# د ونې د پري کولو او الوار جوړونې ځنې عمومي نکتې

- د هغې ساحې موقيعت چې کيدی شي د ونې پري کولو عمليات په هغې کې پيل شي.
- د هغه چهارتراش علايم او نښانې چې شايد پري کړل شي(په استثنا ددې چې که چيرې وې چې ټول چهارتراش پري شي).

# د ونې د پرې کولو او الوار جوړونې ځنې عمومي نکتې

1. په ځنګله کې(cruise) ددې لپاره چې د ځنګله د پرې کېدونکو لرګيو اندازه وټاکل شي.
2. د ځنګله (cruise) عبارت د هغې پروسې نه ده چې په هغې کې د ونو د حجم، رشد يا نمو، ګڼې ګونې براورد او نور معلومات د ځنګل د شتمنۍ په برخه کې تعين کيږي.

# د ونې د پرې کولو او الوار جوړونې ځنې عمومي نکتې

- ډېر میوه ورکونکی او موثرو ساحو موقیعت د پرې کیدونکو ونو باید په پلان کې معلوم وي.
- په پلان کې باید د چهارتراش د اچولو لپاره ځمکه او د لرګیو د کش کولو لپاره سرک ټاکل شوی وي.

# د ونې د پرې کولو او الوار جوړونې ځنې عمومي نکتې

- د هغه وسایلو او لوازمو روښانه کول چې په ونه پرې کولو کې تر استفادې لاندې نیول کیږي او د ونې پرې کونې هغه نوعه چې عملي به شي.
- د عاجلو او فوري وسایلو د زیرمه یا ذخیره کولو لپاره موقیعت، په شمول د اور وژونکو وسایلو یا آلاتو سره، لومړنۍ مرستې او نور عاجل وسایل یا لوازم.

# د هغو ونو پرې کول چې څو فعالیتونو باندې شامل وي په لاندې ډول سره دي :

- د ونو پرې کول.
- د ونې د اندامونو یا ښاخونو یا ښرانګو لرې کول.
- په غوښتل شوی یا مطلوب طول سره د ونو پرې کول.



په کنړ ولایت کې د سدر د ونې پرې کول یا قطع

# د هغو ونو پري کول چي څو فعالیتونو باندې شامل وي په لاندې ډول سره دي :

- د ونې د کندو وړاندې کول یا غورځول یوي مرکزي ساحې ته د حمل او نقل او بارونې لپاره د پري کولو او برش د عمومي ساحې په خطر.
- غورځول دلته د ونو د کندو کش کول دي مرکزي نقطي ته ترڅو په لاریو کي یا ریلونو کي بار کړل شي یا د ... فابریکو ته انتقالول دي



د کنړ په ولایت کي لرګی د قچری پواسطه انتقالیږي

# دونو د محصول د مختلوف نوعو پري کول

- -د ونې د محصول پري کول عبارت دي له رسيدلی چهارتراش او پوخ چهارتراش له اخستلو څخه او د چهارتراش د مثل دتوليد لپاره او د ساحې د تکميلی د درملنې لپاره دي ترڅو د نيالګيو د رشد او نمو لپاره مساعد شرايط برابر شي.
- د چهارتراش تيرونو د پري کولو لپاره مختلف ميتودونه يا طريقي شتون لري.

# Clear Cutting
# بشپړ يا پاک پرې کول

- په دي ميتود يا طريقه کي تقريباً ټول ولاړي وني له منځه وړل کيږي.
- دا ميتود يا طريقه يا کړنلاره د انتخاب شوى ساحې د لوخولو لپاره د ونو د استقرار په خاطر د مادام العمر ونو لپاره وي.

# Clear Cutting
# بشپړ يا پاک پري کول

- له کاملې يا بشپړي پري کوني نه وروسته، دنسل نوی کول يا د نيالګيو کرل يا په مستقيم ډول سره د تخم شيندل ونو لپاره صورت نيسي.
- دوباره احيا کول شايد د همجوارو ونو د تخمونو په پايله کي او يا هم د توی شوو تخمونو په باره چي له پري کړی شوو ونو نه صورت نيسي، وي.

# Clear Cutting
# بشپړ یا پاک پري کول

- د ځنګل په بشپړ ډول سره پري کول په هغه ځای کي عملي کيږي چي د اضافي رشد، د ارزښت زياتوالی، تخم منبعې، د مثل د توليد د ساتنې او د ځنګل پالنې د نورو مقصدونو لپاره اړتيا يا ضرورت شتون ونه لري.
- دا ميتود يا طريقه په رسيدلو او ډيرو رسيدلو ونو کي تراستعمال لاندې نيول کيږي، ترڅو چي نامطلوبي يا ناغوښتل شوي نوعي(species) له منځه يوړل شي او ساحه معالجه شي، په شمول د عالی ونې د سټاک(stock) په کښت کولو سره.

# کامل یا بشپړ پري کول



# Seed-tree Cutting
# دتخم د ونې پرې کول

- د کاملې پرې کونې يو شکل دی چي په هغې کي ونې د تخم حاصل په مناسبه توګه د محصول په ټوله ساحه کي شيندلی پريږدي ترڅو چي د مثل توليد تامين کړل شي.
- دا متيود يا طريقه د هغه شمير ونو په برخه کي عمل کيږي چي په مکرره توګه دتخم زياتي اندازې ته اړتيا لري ترڅو چي ونې تيت او خپري شي او ساحه په غوښتل شوو نو عو سره په مناسبه موده کي احيا کړي.

د تخم د ونې پري کول



# Shelterwood Cutting
# د پناه ځآى د لرګى پري كول

- د تخم د ونې ميتود يا  طريقې ته ورته دى، په دي استثنا سره چي په دي ميتود يا طريقه كي زياتي ونــي لــه لــومړنى پـري كـونې نــه وروسـتـه بـاقي پريښودل كيږي ترڅو چي د نوى توليد لپاره پناه ځاى او  هم د تخم د محلي كيدو لپاره منبع او د ونــې برقرار كيدل وي.

# Shelterwood Cutting
# د پناه ځآی د لرګی پري کول

- د پناه ځای د لرګی پري کول په مختلفو مرحلو یا پراوونو کي تکمیل یا بشپړ کیږي. لومړی مرحله یا پړاو د هغې عبارت دي له د ونو د محصول د یوي برخي له حاصل اخستلو څخه ترڅو د نوی تولید لپاره کافي زمینه مساعده شي. دا میتود د محلي کیدو یا براقرار جوړوني په نوم سره شهرت **(*establishment cutting*)** لري.

# Shelterwood Cutting
# د پناه ځآی د لرګی پري کول

- پاتي نوري وني، چي نسبت د وني  ميتود ته – تخم په شميرنه کي ډير زيات وي، ددي نوى توليد لپاره د تخم منبع برابروي او هم نوى نيالګيو څخه ساتنه کوي.
- په اخره يا د پاى په مرحله کي چي د منځه وړني لپاره د پري کوني(**removal cuttings**)  په نوم سره مشهوره ده، پاتي باقي وني لرى کيږي ددي لپاره چي د هغي پناه ځاى کموالى پيداکوي.

# د پناه ځای د لرګی پري کول



د استقرار جوړوني پري کول



د له منځه وړلو یا لری کولو په خاطر پري کول

# Selection Cutting
# انتخاب شوی یا ګلچین پري کول

- د پري کولو له یو پیچلي او ګنډلی سیستم نه عبارت دی چي د نابرابرو ونو د ستند(stand) د ساتنې یا منځته راوړنې لپاره په کار وړل کیږي.
- د انتخاب شوی پري کوني هدف یا موخه دا ده ترڅو چي رسیدلي یا پاخه چهارتراش په طریقه او اندازي سره له منځه یوړل شي چي د نوی تولید لپاره کافي زمینه مساعده شي او د هغو ونو خپریدل چي متعدد شمیر عمرونه لري په یو واحد ستند(stand) کي باقي پاتي شي.

# انتخاب شوی یا ګلچين پري کول په دوه طريقو يا لارو سره سرته رسيږي

- ۱. **د واحدې ـــ ونې د انتخاب طريقه**، په دي کړنلاره کي انفرادي وني په د عمر په ټولګی (age class ) کي چي بايد حاصل يي واخستل شي، هغه انتخابيږي او له منځه وړل کيږي.

# انتخاب شوی یا ګلچین پري کول په دوه طریقو یا لارو سره سرته رسیږي

- ۲. **د ګروپي انتخاب کړنلاره** ـ په دي طریقه یا میتود کي ستند(stand) په وړو ګروپونو سره یا واحدونو سره تقسیم کیږي چي وروسته د عمر په واحد ټولګی ( age class)کي د نابرابر لوی ستند په داخل کي ترتیب کیږي.

د انتخاب يا ټاکنې کړنلاره



(Courtesy, Interstate Publishers, Inc.)

## : هغه شمیر عوامل او فکتورونه چي د پري کړی شوو ونو په محصول کي تاثیر لري.

- (Felling ) د پــري کولــو یــا د ونــو لــه بیخ(stump) څخه د ونو جلا کولو نه عبارت دی.
- البتـه فیلنـګ Felling نسبت پـري کولو تـه زیات کار ته اړتیا لري یا زیات کار غواړي.
- فیلنګ یه دي معنـي چي ترڅو ونـه پـه داسـې توګه پـري کـړل شـي چـي پـه غوښـتل شـوی لـوری کـي مصون سقوط وکړي، چپـه شوی ونـي او د مـاحول ونـو تـه پـه کمـې اندازې زیـان ورسـوي یـا صدمه ورارده کړي.

# Limbing
# له ونې ښخه د ښاخونو پرې کول

- د ښاخ پرې کول **(Limbing)** د ونې له چپه شوو ښاخونو نه عبارت دي يا د ولاړو ونو له ښاخونو پرې کولو نه عبارت دي.
- په عمومي توګه پرې کول د چپه شوی ونې له پرې کولو ښخه عبارت دی چې ونه په کندو يا عمودي ډول سره پرې کړل شي.

# هغه شمیر عوامل او فکتورونه چي د پري کړی شوو ونو په محصول کي تاثیر لري.

- د وني د پري کولو د پروسي پا پړاو لپاره وخت او کار ته اړتیا ډیره لیدل کیږي، ولي د برقي اري(chainsaw) په رواجولو او تعمیم سره د وخت او کار اندازه د ملاحظې وړ کموالی پیدا کړی دی.

# هغه شمیر عوامل او فکتورونه چي د پري کړی شوو ونو په محصول کي تاثير لري.

- د ونې نوعيت او اندازه هم په وخت او زمان باندې تاثير لري. هغه عوامل او مهم فکتورونه چي د پري شوو ونو محصول متاثره کوي له لاندې ډول سره دي:
  - په في هکتار کي د چهارتراش اندازه او حجم.
  - د ونو د پري کولو په برخه کي د کارمندانو مهارت.
  - د ځمکې د عوارضو شرايط - د ټوکيدلو ګياوو اندازه،د ځمکې تندي(steepness) وچوالی يا لوندوالی د کار د ساحې .
  - د زيانمنو شوو ونو اندازه.
  - د کال فصل يا موسم.

# هغه عوامل او فکتورونه چي د ونې په کش کولو کي داخل دي.

- د ونې کش کول(Skidding) د ونــې د پـري کولـو له عملياتو څخه دی چي په هغې کي د ونې کندي له هغـه ځايـه چــي پـري شـوي دي ترمرکـزي نقطــي پوري چي کندي پـه لاريو يـا ريلونو کــي باريږي، کش او اچول کيږي.
- پـــه ځنـــي برخـــو کـــي دا مرحلـــه د فرعـــي لاري څخه(هغه لاره چي لـه ښار او ترافيکو څخـه لـري وي) صورت نيسي.

# هغه عوامل او فکتورونه چي د ونې په کش کولو کي داخل دي.

- د کاغذ د نرم لرګی برخي یا قطعي چیرته چي ونه پري شوي وي د لاس پواسطه او په مستقیمه توګه په لاریو کي بارول کیږي.

# هغه عوامل او فکتورونه چي د ونې په کش کولو کي داخل دي.

- (هغه عوامل او فکتورونه چي په کش کولو کي داخل دي له هغه عواملو سره ورته يا مشابه دی چي په احيا کولو کي داخل دي ولي په دي برخيره لاندې موارد هم په نظر کي نيول کيږي:
  - د کندو په وزنونو کي تفاوتونه يا توپيرونه.
  - دکش کولو فاصله.
  - د هغه وخت اندازه چي د کش کولو نه مخکې ورته ضرورت دی د کندو ګروپ بندي کول - د تيتو او شيندلو کندو جمع کول يو معين ځآی ته ترڅو له هغه ځايه په موثره توګه کش کړل شي.

# مرور/ خلاصه یا لنډیز

1. هغه عمده فعالیتونه تشریح کړئ چې دونې د حاصل په اخستلو کې داخیل دي.
2. د ونو د محصول د مختلفو نوعو پرې کول مقایسه یا پرتله کړئ.
3. هغه شمیر عوامل او فکتورونه تشخیص کړئ چې د پرې کړی شوو ونو په حاصل کې تاثیر لري.
4. هغه عوامل او فکتورونه تشخیص کړئ چې د ونې په کش کولو کې داخل دي..